مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۱/۱۱/۰۹

# اعلان

## (لنډه کيسه)



ديواله ته مخامخ ودريد. تازه سريښ شوي کاغذ ته يې کتل. کله به يې عينکې لرې کړې او کله به يې بيرته په سترګو کړې. يو ناڅاپه به په خيالونو کې ورک شو. لکه بيخي چې دلته ولاړ نه وي. ځان سره به يې خبرې شروع کړې: نن مابښام يې خامخا در ورم. نن شپه به رانه وړې ويده نشئ. لمسيانو! خير دی؛ لږ نور هم صبر وکړئ.

ژر يې عينکې لرې کړې، د خړې کُرتې له جيبه يې کلوله سور دسمال راوويست او پر سترګو يې راتير کړ.

بيا يې ديواله ته وکتل؛ پر تشو يې ورو – ورو، لاس واهه. لکړه يې کاغذ ته ونيوله او مخ يې راواړو:

زويه!

پر دې کاغذ ليکل شوي نمبر ته خو لږ زنګ وواهه او ورته ووايه؛ چې د سپين ږيري ګُرده اخلې.

د سلواغي ۱۳مه، ۱۳۹۸، کابل



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ